# مطوية أعمال الحج(للوزارة)

د حج اعمال

د محمد بن صالح العثيمين ليکنه

د سعودي عربستان شاهي مملکت

داسلامی چارو، دعوت او ارشاد وزارت

# د حج اعمال

د عاليقدر شيخ:

محمد بن صالح العثيمين ليکنه

رحمه الله

## د لومړۍ ورځې عمل

### چې هغه اتمه ورځ ده

۱- (هغه څوک چې په مکه او د هغې په شاوخوا کې استوګن وي) له خپل ځای څخه به د حج لپاره احرام تړي، غسل به کوي، خوشبويي به کاروي، د احرام جامې به اغوندي، او داسې به وايي:

«اي الله! ستا لپاره حج کولو ته حاضر يم، اي لويه ربه زه تا ته حاضر يم، زه حاضر يم تا لره هېڅ شريک نشته، يقينا چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي، او پاچاهي تا لره ده، تا لره هېڅ شريک نشته». او هغه څوک چې په همدې ورځ مکې ته راځي او د ميقاتونو له هاخوا څخه را روان وي، نو له ميقاته دې بې احرامه نه تېرېږي. ۲- منا ته به ځي او د نهمې ورځې تر لمر خاته پورې به هلته پاتې کيږي، او هلته د اتمې ورځې د ماسپښين، مازديګر، ماښام، ماخوستن، او د

نهمي ورځې د سهار لمونځونه ادا کوي؛ هر لمونځ به په خپل وخت کوي او څلور رکعتي لمونځونه به قصر کوي.

### د دويمې ورځې کار

### چې هغه نهمه ورځ ده

۱- د لمر له راختلو وروسته به عرفې ته روانيږي، او د ماسپښين او مازديګر لمونځونه به قصر او د ماسپښين په وخت کې يو ځای ادا کوي، او - که ممکن و - کله چې ورسيږي، نو د زوال نه مخکې به په نمره کې پاتې کيږي.

۲- د لمانځه پسې د ذکر او دعا لپاره ځان فارغوي، او د لمر تر پرېوتو پورې قبلې ته مخ کوي او لاسونه پورته کوي.

۳- د لمر له پرېوتو وروسته مزدلفې ته ځي، هلته د ماښام لمونځ درې او د ماخوستن لمونځ دوه رکعته ادا کوي، او تر سهار راختلو پورې به په کې شپه تېروي.

۴- د سهار لمونځ به د سهار له راختلو وروسته ادا کوي، بيا به تر هغه وخته ذکر او دعا کوي چې ښه رڼا شي.

۵- د لمر له راختلو مخکې به منا ته روانيږي.

### د درېمې ورځې کار (د اختر ورځ)

۱- کله چې منا ته ورسيږي، د عقبې جمره به په اووه کاڼو پرله پسې ولي، او له هر کاڼي سره به الله اكبر وايي.

۲ - كه قرباني ولري، نو هغه به حلالوي.

۳- خپل سر دې وخروي يا دې لنډ کړي، او په دې سره لومړی تحلل ترسره کيږي؛ خپلې جامې دې واغوندي،

خوشبويي دې استعمال کړي نو د احرام ټول ممنوعات ورته روا کيږي، پرته له دې چې خپلې مېرمنې ته نږدې شي.

۴- مکې ته به ځي او د افاضې طواف به کوي، چې د حج طواف دی، او د حج لپاره د صفا او مروه ترمنځ به سعي کوي، که چېرې متمتع و، او يا که متمتع نه و خو د قدوم له طواف سره يې سعي نه وه کړې.

په دې سره ورته دويم تحلل حاصليږي، او د احرام ټول حرام شوي کارونه ورته حلاليږي، ان تر دې چې خپلې مېرمنې ته هم نږدې کېدلی شي.

۵- منا ته به ورګرځي او هلته به د يوولسمې شپه تېروي.

### د ځلورمې ورځې کار

### چې يوولسمه ورځ ده

۱- درې واړه جمرې، لومړۍ بيا منځنۍ او بيا د عقبې جمره، هره يوه به په اوو پرله پسې تيږو ولي، او له هرې تيږې سره به الله اکبر وايي. دا جمرې به له زوال څخه وروسته ولي، او له هغه څخه مخکې يې ويشتل جواز نه لري، او د لومړۍ او منځنۍ جمرې وروسته به د دعا لپاره ودريږي.

۲- په مِنَا کې د دوولسمې شپه تېرول.

### د پنځمې ورځې کار

### چې هغه دولسمه ورځ ده

۱- درې واړه جمرې به ولي، لکه څنګه چې يې په ځلورمه ورځ ويشتلې وې.

٢- که د تلوار کولو اراده ولري نو له منا څخه به د لمر ډوبېدو نه مخکې روانیږي، او که د ځنډېدو اراده ولري نو شپه به په کې تېروي.

### *د شپږمې ورځې کار چې دیارلسمه ورځ ده*

دغه ورځ د هغه چا لپاره خاصه ده چې تاخیر کوي او په دې کې دا کارونه کوي:

١- درې واړه جمرې دې د مخکنیو دوو ورځو په څېر وولي.

٢- له هغه وروسته به له منا څخه کوچ کوي.

او وروستی عمل به یې د سفر پر مهال طواف الوداع وي، والله أعلم.

فهرست

د حج اعمال .......... 2
د حج اعمال .......... 2
د لومړۍ ورځې عمل .......... 2
چې هغه اتمه ورځ ده.......... 2
د دویمې ورځې کار .......... 3
چې هغه نهمه ورځ ده.......... 3
د درېمې ورځې کار )د اختر ورځ(.......... 3
د څلورمې ورځې کار .......... 4
چې یوولسمه ورځ ده.......... 4
د پنځمې ورځې کار .......... 4
چې هغه دولسمه ورځ ده.......... 4
د شپږمې ورځې کار چې دیارلسمه ورځ ده .......... 5